**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د فلسطین ازادي په رانیږدې کېدو ده

## (ژباړه)

د مقاومت جنګیالي د غزې په تړانګه کې چې تر محاصرې لاندې ده، د سپکو وسلو او نسبتاً ساده لارو چارو په مرسته د صهیونیستی اشغال تش په نوم قدرت د توهم پر شنډولو بریالي شول. دې کار نه یوازې د صهیونیستي اشغال کمزورتیا، بلکې هغه ناوړه مسلمان رژیمونه هم افشا کړل چې ګومان یې کاوه صهیونستان له پوځي پلوه ډېر پیاوړي او د ماتېدو وړ نه دي او له همدې امله یې د اړیکو عادي کولو توجیه کاوه.

طوفان الاقصی عملیاتو په حقیقت کې په ډاګه کړه، چې که له اشغال سره مقابلې ته منظم پوځ واستول شي؛ د فلسطین ازادي ورځې نه، څو ساعتونه غواړي.

د ډنمارک حکومت او رسنۍ یې د صهیونیستی اشغال پر وړاندې مبارزې ته «ترهګري» وایي؛ له دې سره یې یو ځل بیا خپل منافقت په ډاګه کړ؛ هممهاله پر هغې ترهګرۍ سترګې پټوي چې صهیونیستانو له څه باندې ۷۵ کلونو راهیسې د فلسطین ولس تر پښو لاندې کړې دی. ډنمارک ان د ترهګرې ادارې هوایی ځواک ته وسلې برابرې کړې، چې د غزې په تړانګه کې نارینه، ښځې او ماشومان پرې ووژني.

صهیونیستي اشغال به هڅه وکړي چې خپله کمزورتیا د هغه څه په کولو وپوښي، چې تر ټولو ښه یې کوي؛ په غزه کې پر بې دفاع ملکي وګړو بمباري. خو زیان پکې دوی وینې. دا ټولو په تېره بیا د اسلامي خاورو په ځواکونو کې مسلمانو پوځیانو ته په ډاګه شوه، چې د صهیونیستانو ماتول اسانه دي. له همدې امله اوس د فلسطین ازادي ډېره نیږدې شوې.

حزب التحریر پر ټولو مسلمانانو غږ کوي چې د نړۍ د مسلمانانو لپاره د سمې حللارې په توګه د خلافت دولت د تاسیس لړ بلنې سره یو ځای شي او په اسلامي نړۍ کې هغه ګوډاګي رژیمونه را نسکور کړي چې د صهیونیستانو ریښتیني ساتونکي دي. کله چې دې موخې ته ورسېدو، نو د فلسطین بیا ازادیدل به له څو شیبو ډېر وخت ونه نیسي. هغه وخت به هیڅوک د صهیونیستانو تر څنګ ونه دریږي، ان د ترهګرۍ خواخوږی ډنمارک حکومت.

**په ډنمارک کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۴مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۹مه**

**د صدور گڼه: ۰۲/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: فریدون محتاط**